مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۱۲/۲۳

# د علامه اقبال ځلوريځي

اتمه برخه

| | |
|---|---|
| ز من گو صوفیان با صفا را | زما سلام دی پر صوفیانو د خلوت په تاریکو کي |
| خداجویان معنی آشنا را | چي مطلب يې خپل خالق وي د معنی په رباتو کي |
| غلام همت آن خود پرستم | د همت يې زه غلام يم چي پر ځان باندي مين وي |
| که با نور خودي بیند خدا را | د خودۍ په نور چي ويني خدای په خپلو آيينو کي |
| **** | **** |
| به شبنم غنچهٔ نو رسته اي گفت | غوټۍ وويل شبنم ته وايه ښکلي گل پرسته |
| نگاه ما چمن زادان رسا نیست | موږ چي زيږو په چمن کي تنکي سترگي له السته |
| در آن پهنا که صد خورشید دارد | موږ له هسکه خبر نه يو چي لمرونه پکښي گرځي |
| تمیز پست و بالا هست یا نیست؟ | فرق د لوړو او ژورو هلته کيږي او نسته؟ |
| **** | **** |
| جهان رنگ و بو فهمیدنی هست | دا د رنگ او بوی نړۍ ده زما او ستا د پوهېدلو |
| درین وادي بسی گل چیدني هست | په دې بڼ کي سرې غوټۍ دي د شکولو بوېولو |
| ولی چشم از درون خود نه بندي | مگر پام چي پټي نه کړې له خپل ځانه ځخه سترگي |
| که در جان تو چیزی دیدنی هست | چي په ځان کي دي اِسرار دي د ليدلو پوهېدلو |
| **** | **** |
| هنوز از بند آب و گِل نه رستي | تا هنوز شلولي نه دي د اوبو، ختو بندونه |
| تو گويی رومي و افغاني ام من | د رومي او افغاني دي پر ځان ايښي دي نومونه |
| من اول آدم بی رنگ و بويم | زه اول آدم پيدا يم بې له رنگه بې له بويه |
| از آن پس هندي و تورانی ام من | بيا هندي او توراني يم راته يو دي سل قومونه. |



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ